۱۳۴۷
(۸)
11/1968
۱۳۴۷
(۸) عقرب

د کندهار مجله

د کندهار مجله د عقرب
دمیاشتی د شپاړسمی نیټی
په مناسبت چې د معظم
ټولواک همایونی اعلیحضرت
د نېکمرغه تخت کښېناستو
د پنځه دېرشمی کالیزی سره
مصادفه ده خپل د زړه
له کومې مبارکی شاهانه
حضور او د افغان نجیب
ملت ته وړاندی کوی او د
لوی خدای [ج] له درباره
څخه د شهریاری ذات تر
هما پایه سیوری لاندی
د افغان ولس د لا زیات
وړاندی تګ هیله کوی.

د مینې رویبار

اې ښکلې او ښایستې کوترې ! هره ورځ دا روح سوځونکې او زړه خوږونکې نارې وهې . آیا زړه دې غواړې چې دا خپل ښایسته وزرونه زما د پاکې او سپېڅلې مینې په خدمت کې راته وړاندې کړې .

آزما ګرانې او پې مخې محبوبې ! وګوره چې ته خونه ددې کوترې څخه چې زما د مینې او محبت نه ډک لیک تا ته د روړې لیږې یې .

آه، بېله دې چې ستا ددوو تورو او ملالو سترګو په یاد په وینو وژاړم . زما د سوې او د غم څخه ډک زړه ته بل ډاډ او امید نه دې پاته سوې، نو ځکه ته زما له یاده نه وزې او زه دې نه سم هېرولای .

نو اې ښایستې کوترې هله ژر ولاړه سه او زما ددې سوې او مکوټ زړه ملګرې سه او پام کوه چې ستا دا تازه ګې او سور-بخونې پښې د درختو له ښاخو او یا له هغه جګو، جګو دېوالو څخه ونه مښلې ژر دې چې زړه به مې د مینې له تاوه څخه ودریږي او نابود به سم .

که دې زړه دې چې دا د مینې په اور سوې او لوله په مین دې خوښ او خوشحاله کړې زما د محبوبې و مانۍ ته ورسه او دا د زړه په وینو لیکل سوې پاڼه دې ته ورکړه او زما له خوا ددې هغه سرې او نازکې شونډې په ډېر ادب او احترام سره مچ کړه وروسته هغه نښانه چې زما د ژوند ملګرې د زړه ټوټې یا په بله ژبه د انس فرښتې د خپل نامراد او ناکامه مین د پاره درکړې ده راوړه اوراسه، زما پردې د مینې او محبت نه ډک سینه باندې کښېنه او آرام وکړه .

[ریدې]

د ښاغلی محمدګل [نوری] ژباړه

د آریانا د واکدارانو پخوانی سلسله

زرونه کلونه پخوا چی آریائیان له خپل اصل ځای (آریاویجو) څخه د هندوکش و شمالی سیمو ته ولېږېدل نو په ډېر لنډ وخت کی دوی د یوه لوی دولت په جوړېدلو باندی بریالی شول.

د اوستا د توضیحاتو سره سم د آریانا لومړنی ډله پاچاهان له بلخ څخه پر ۷ نورو هیوادونو باندی آریائیانو حکومت کاوه او دوی د پارادانا (پیشدادی) په نامه سره یاد ېدل چی ددغه پیشدادی لغوی مفهوم (لومړی پاچاهان) دی د آریانا د سلطنت اساس ددوی په وسیله سره په بخدی (بلخ) کی کښېښوول شو. د ویدی او اوستائی د مأخذ د شهادت له مخی د پارادانا سلسله او وروسته بیا د کیانی (پخوانی آریا) هغه وخت چی آریائیان د باختر لور ته په لېږ د ېدلو باندی شروع وکړه، پر دوی ټولو باندی ئې حکومت کاوه.

د آریائیانو د لومړنی سلطنت مؤسس رایما (جمشید) بولی داهم باید وویل شی چی د مخه تر دوی یو بله ډله حکمرانان وه چی په اغلب ګومان سره ملی مشران ګڼل کېدل هغه ډ چی دوی کرار کرار دیو لوی سلطنت د جوړېدلو لپاره زمینه برابره کړه او په حکومت کولو ئې شروع وکړه. او دوی په ترتیب سره یو په بل پسی په لاندنی ډول سره منځ ته راغله.

۱- کیومرث، خلك نسبتاً پخوا ته له مدنی ژوند سره اشنا کړه.

۲- سیامك، د کیومرث زوی چی وروسته له ده د پلار پر ځای کښېنوست.

۳- هوشیانما (هوشنګ) چی اوستا دده فداکاری او قربانی یادی کړیدی.

۴- تخمه اوروپا (تهمورشاه) تر هوشنګ وروسته میدان ته راغلی.

یما (جمشید)

یما چی دویدی سرودونه دی یما راجان، (یعنی ستر پاچا) او اوستا دی یما بولی اود یما دوره یوه روښانه زمانه او اسلامی دوره ده (جمشید ؤجم) بللی دی او په حقیقت کی دی لومړی واکدار د د (پارادانا) د سلسلی دی. چی په باختر کی و سلطنت ته رسیدلی دی نومړی یو ټینګه کلا په نجدی کی د بلخ په لوی موقعیت کی ودانه کړه. او خلکو ته ئې کرهڼه، حرفه او د اسلحی استعمال وروښودی مخکی تر ده اسلحی له لرګو او ډبری څخه جوړېدلی ولی ده د اسلحی جوړول په پوره توګه سره لکه توره او خنجر رواج کړه دیماد واکمنی په وخت کی وسله اصلاح شول د پهلوانانو او د عسکری قوی تنظیم شروع شو.

پدغه وخت کی نو آریائیان د شمالی پاتوریانو

ومقابلې ته تیار شول .

دیما د سلطنت په وروستیو وختو کې یو شخص د ازهی دهاکا (ضحاك) د لوېدیځ لور څخه پر باختر باندی حمله وکړه او په موقتی توګه ئې پر هغوی باندی تسلط پیدا کړ هغه ؤ چی وروسته له یوې مودې ترتیونا «فریدون» دوی مغلوب کړه او دیما وسلطنت ته ئې خاتمه ورکړه .

ترتیونا (فریدون)

ترتیونا (فریدون) یو د نامی پاچاهانو څخه د پاراداتا د سلسلی دی چی ازهی دهاکا (ضحاك) ئې مغلوب کړ او د لومړنی پاچاهانو سلطنت ئې له منځه یووړ .

کرساسپه (ګرشاسپ) د ترتیونا څخه وروسته کرساسپه وسلطنت ته ورسېدی دی شجاع، زورور او قوی پهلوان ؤ نو له دغه امله د پاراداتا، د سلسلی د قوی پاچاهانو څخه ګڼل کیږی .

د کرساسپه د کارو څخه اکثره دده د قهرمانی داستانونه له کابله او ګندهارا څخه بیا د ارغنداو تر حوزې او د سیستان ترشاو خوا پوری خپاره او تیت شویدی، دی د «ګرشاسپ نریمان» پنامه هم بلل کیږی، د اوستا د ځینو اشارو څخه څرګندیږی چی ازهی د هاکا (ضحاك) دده په لاس وژل شویدی، دا هم څرګندیږی چی ښایی په مصر کی ترتیونا یو عسکری ستر قهرمان ګڼل کېدی .

په افغانستان کی ډېری جنګی کلاوی دده (ګرشاسپ نریمان) پنامه معروفی دی، چی د دغو کلاوو څخه د یوې کلا خرابه او کنډواله د کالو او بامیان د تقاطع په نقطه د ضحاك د ښار په څنګ کی د یوه غره په بغل کی لیدله کیږی .

✡ ✡ ✡

د کاوی (کیانی)

کورنۍ

د پاراداتا تر کورنۍ وروسته د کاوی یا کیانی پر آریانا باندی د بخدی څخه حکمرانی او فرمانروایی کړېده، د دې سلسلی د پاچهانو نومونه د کاوی، او کی په کلمو سره شروع کیږی او مؤسس ئې کاوی کوانا (کیقباد) ګڼل شویدی .

✡ ✡ ✡

کاوی کوانا

(کیقباد)

کاوی کوانا هغه شپون دی چی د اوستا د لیکنی سره سم د البرز په غره کی چی د بلخ په جنوب کی دی دوو عقابانو یو تاج (خول) دده پر سر ایښی دی، نو ځکه وګړو دی په پاچهی سره انتخاب کی .

دغه پاك نژاده باچا د دخپلی دورې په مهال کی خپل مملکت د شمال د توریائی یرغلو او چپاو څخه وساته او د آریانا د امنیت د پاره ئې ډېر کوښښ او ماند کړیدی .

✡ ✡ ✡

کاوی یوسان

(کیکاوس)

تر کاوی کواتا وروسته دغه نوموړی د آریانا و سلطنت ته ورسېدی، دغه باچا ډېر زړه ور او زورور باچا ؤ .

ده ټینګ نیت وکی چی د آریانا حدود د پردو (پرته د آریایی نژاد څخه) پاك کړی، د همدغه مطلب د پاره لومړی د مازندران د ځنګلو وخواته ولاړ .

دغه علاقه او سیمه اوستا د دیبا سیمه بلله .

پاته لری

لیکونکی: موریس میترلینک

د «ع» ژباړه

د نړۍ نوی حرکت

په ۱۸۲۷ میلادی کال کی یو انګلیسی پوهاند چی «برون» نومېدی، دې ته متوجه شو چی د اجسامو

ډېر کوچنی ذرات د حرکت درلوونکی دی، یو آن هم آرام نه کوی او پرله پسی ښوری.

که د خونی له کولك یا د دېوال له سوری څخه یوې تیارې خونی ته د لمر وړانګی دیو ستون په ډول

راولېدلی وی، موږ په هغه نور کی داسی ذرې وینو چی پرله پسی پورته او کښته کیږی، او داهم راته معلومه

نه ده چی آیا له دې دایمی پورته کښته کېدلو څخه ئې هدف څه دی؟

دا موضوع په زرهاؤ کلو د مخه زموږ نیکه ګانو درك کړې وه ولی هیڅوك نه حاضر بدل چی دا ومنی

چی هغه ذرات په خپله په حرکت کی دی، او داسی خیال به ئې کاوه چی د هوا څپی که څه هم ډېری آرامی وی دا ذرات پـه حرکت راولی.

په ۱۸۲۷م کال کی برون دې ته متوجه شو چی دا حرکت د اوبو په یوه څاڅکی کی هم سته او هغه ذرات چی د اوبو په یوه څاڅکی

کی راټول شوی وی پرله پسی ښوری او حرکت کوی. ښکاره ده چی د ذراتو دا حرکات د هغو الکترونو له حرکت څخه توپیر

لری چی د اټم په منځ کی ښوری او نیمی پېړۍ راپدېخوا موږ په پوهېدلی یو.

په نړۍ کی چی څه ذرات شته هغه د همېشه او ابد لپاره په حرکت کی دی، او که د یوه کان په منځ کی پر یو بلورینه ډبره

د اوبو څاڅکی ووینی او داهم درته معلومه وی چی د زرهاؤ کلو راپدېخوا نوموړی څاڅکی هیڅ حرکت نه دی کړی بیاهم د هغه ذرات پرله پسی په حرکت کی دی.

دا څاڅکی چی د زرهاؤ کلو راپدېخوا په ښکاره ډول د ډېری پر بستر آرام بیده دی په خپل داخل کی داسی جنب وجوش پکښی شروع دی چی زموږ د اجتماعاتو لوی فعالیت حتی د جګړې د ډګر اړو دوړ هم نه شی پسی رسېدلای.

دا حرکت نن د خپل کاشف په نامه یادیږی او د «برون حرکت» نوم ورته ایښودل سویدی.

اوس چی دې حرکت ته ګورو باید اعتراف وکړو چی د نړۍ یو لوی سر هم دغه حرکت دی.

دا حرکت چی په ذراتو او الکترینو کی موجود دی د آسمان خواته لوی ستوری او لوی نظامونه هم له دې

حرکت څخه فارغه نه دی. د ذراتو دا حرکت دومره تېز دی چی کله موږ نفس کاږو او بیرته ساه راکشوو په

میلیارډو ذرات د توپ تر مردك هم په چټکی زموږ سږو ته ننوزی او د نفس په را ایستلو بیرته راوزی.

دا چی موږ په یوه تاریکه کوټه کی د لمر په رڼا کی کوم ذرات وینو ډېر غټ دی او هر یو ئې د ملیونو ذرو له اجتماع څخه جوړ

نور په ٦ مخ کی

د [هارونی] ژباړه

عجیبه سزا
او
عجیب سوغات

داخبره ډېره مشهوره ده چی وایی: د فرانسی ډېرو خلکو د فرانسی دلوی انقلاب په وخت کی د بشر د حقوقو هغه کتاب چی د ځینو خیانت کارانو د بدن پوستونه وروقایه سوی وه په لاس راوړ. دغه خیانتکاران خلک د فرانسی د نهضت او د بشر د آزادی مخالف وه، نو پدې جرم ووژل شوه او پوستونه ئې د نوموړی کتاب پشتی شوه.

کله چی بیا [ژان ژاک روسو] د اجتماعی تړون کتاب ولیکی او په فرانسه کی خپور سو، د فرانسی ځینو غټانو په ټوکو او استهزا استقبال کی کله چی د فرانسی انقلاب تمام سو د فرانسی ملت دغه غټان په دغه جرم ونیول پسی مړه او پوست ئې کړه پوستونه ئې د نوموړی کتابو وقایی کړی چی اوس هم د فرانسی او انګلستان په موزیمو کی په دغه شکل لیدل کیږی.

د انګلستان په موزیم کی یو بل کتاب چی د «ویلیام کودر» د بدن پوست ور وقایه شویدی لیدل کیږی. د اسړی یو لوی بدکاره او جانی ؤ او ډېری بېګناه ښځی ئې وژلی وی، آخر په همدې ګناه ووژل شو او د هغه وخت نامتو جراح ئې پوست د بدن څخه وکیښ او د کتاب پشتی ئې کړه پر دغه کتاب دده د جنایاتو ذکر او یوه نېټه چی ۱۸۲۸ کال ښئی هم لیدله کیږی.

د انګلستان په یوه موزیم کی یو بل کتاب هم سته چی د یوه انګلیسی مجرم پوست ئې ورو قایه کړیدی. دا سړی هم لوی جانی او په دغه تور وژل شویدی، د کتاب په آخر کی پخپله دده عکس په داسی حال کی لیدل کیږی چی په دار ځړیږی.

داوی د بشری جنایاتو په بدل کی عجیبی سزاوی.

تردې ټولو چی د سړی توجه ورجلبوی او د افراطی عشق یوه غټه نمونه ده هغه د فرانسی د نامتو ستوری پېژند ونکی (کایل فلاماریون) د کتاب وقایه ده چی د یوې ښکلی ښځی د ځګر د پوست څخه ورجوړه شویده نکل ئې داسی دی:-

وایی چی دغه ښځه پر نوموړی منجم مینه وه کله چی د امړه کېده وصیت ئې وکړ چی زما د ځګر د پوست څخه دی د دد کتاب ته وقایه ورجوړه شی او زما له خوا دی د یو عاشقانه سوغات په توګه وروړاندی شی. «طلوع

د نړی...

د ٥ مخ پاته

شویدی نو ځکه حرکت ئې بطی دی ولی کوچنی ذرې دومری په تیزی په حرکت کی دی چی زموږ ستر ګی ئې د لیدلو تاب نلری او میخوک داهم نسی ویلای چی دا ذرې چیری ځی؟ د فرانسی یو فزیک پوهاند «ان بر» وایی چی د اوبو یا هوا په هر مکعب سانتی متر کی چی دیوه کال په دوران کی د نوموړو ذرو له حرکت څخه کوم «قوت» حاصلیږی د هغه اندازه د هغه قوت سره برابره ده چی په یوه ساعت کی د اورګاډی له ذرو او کومو تیو څخه پیدا کیږی.

دا ډول قوت پر له پسی تولیدیږی او بېله دې چی موږ دی درک وکړو په مصرف رسیږی، دلته صرف موږ ته یو حیرت پیښیږی او دا یو ښتنه را ولاړیږی چی آیا د دې قوت تولید او مصرف د څه لپاره دی؟ خو تر اوسه د بشر طاقت دې ته نه دی رسیدلی چی د داسی پوښتنو جواب دی وویلای شی.

دوست محمد [ترهکی]

«۴»

د ګرمسیر د کلتور وضع

«دوهم فصل»

دمخه تردې چې د ګرمسیر د خلکو ثقافتي وضع تر مطالعې لاندې ونیول شي باید د کلتور د اصلي کلمې لغوي معنا او اصطلاحي مفهوم پدې فصل کې واضح سي نو وروسته به بیا اصلي موضوع ته راسو .

کلتور چې یوه انګلیسي کلمه ده لغوي معنا ئې ثقافت یا فرهنګ او بعضي خلک د اجتماعي ودې او نمو معنا هم ګڼي اخلي .

په اصطلاحي ډول کلتور دیوې جامعې د علم، معرفت، اقتصاد عرف ؤ عادات، روایاتو، ادبیاتو، عقایدو او ژبې، تاریخ، هنر صنعت، کرهنې، موسیقۍ او افسانو مجموعې ته وایي .

انساني جوامع او ملتونه هر یو ځانته مخصوص او علیحده ثقافت لري، او دغه رنګه په هر ملت او جامعه کې ثقافت ؤ کلتور بېل، بېل اړخونه لري او هم دغه رنګه د ثقافت هر اړخ ځانته یوه بېله موضوع ده چې د هغوی تفصیل دلته ټوله نه راوستل کیږي په لنډ ډول ئې یادونه کوم .

د ثقافت یو اړخ کلتوري انسان پېژندنه ده چې دا موضوع د انسان فزیکي او اجتماعي وضع تر څېړنې لاندې نیسي .

د ثقافت بل اړخ د اجتماعي انسان پېژندنه ده چې دا موضوع په اجتماع کې انساني خپلوي روابط، اقتصادیات، قوانین، عرف ؤ عادات د خلکو تر څېړنې لاندې نیسي .

د پورتنۍ تعریف څخه داسې معلومیږي چې په انساني جوامعو کې هر وخت او په هر ځای کې ثقافت موجود ؤ . بعضي کلتور د انساني ژوندسره په یوه جمعیت کې لازم شي دی په هر شکل چې وي مګر هر ملت او هر عصر ځانته بېل، بېل خصوصیات لري چې د هغه ملت او عصر د انسانانو د فکر نمایندګي کوي . د همدغه عصر د خصوصیاتو بدلون او د انسانانو فکري انکشاف دی چې یو عصر په بل عصر تبدیلوي او اجتماعي سیر تکامل ما بین ته راولي .

پورتنۍ تبصره د کلتور د عمومي تعریف په باره کې ؤ وروسته تردې به خپل اصلي هدف ته چې د ګرمسیر د اجتماعي کلتور په باره کې ؤ تر مختلفو عنوانو لاندې وګرانو لوستونکو ته وړاندې کړو .

د هلمند د ناوې د ټول ولایت کلتور تقریباً متحد شکل لري اما په عین حال کې یو د بله لږ فرق سره لري چې عموماً پر درو برخو دا منطقه د کلتوري نقطه نظره جلا کوو .

۱. منځنۍ برخې :

د دې برخې خلک د ثقافت د نقطه نظره نسبت و شمالي او جنوبي برخو ته په مخکې دي د خلکو ذهنیت ئې ښه دی د علم او معرفت د خاوندانو فیصدي ئې نسبتاً

و نور هلمندته ډېر ده .

شمالی برخی :-

دا برخی اکثره غرنی دی، سړکونه او اساسی لاری پکښی ډېری نه دی، خلګ ئې مرکز ته لږ راځی او د منځنی برخو د خلګو سره هم ډېر تماس نلری ځکه نو ثقافت ئې نسبت و مرکزی برخو ته وروسته پاته دی .

جنوبی برخی :-

د دې برخی د خلګو فکرونه نسبت و پورتنی دوو برخو و خلګو ته ساده او ابتدائی دی او مطابق د دوی د فکرو سره کلتور ئې هم ابتدائی دی، مګر هغه جنوبی برخی چی د هلمند د ولایت مرکز (بست) ته نژدې تګ او راتګ ورسره لری چی د تېرو څو کلونو راپدېخوا ئې کلتور ښه ترا وده کړېده، د هغه جملی څخه د ګرمسېر شمالی او منځنی برخی هم دی .

د ګرمسېر اجتماعی کلتور د هغه وخت راپدېخوا چی د هلمند د زراعتی انکشاف عمومی ریاست په هغه ځای کی په فعالیت شروع کړېده ښه ترا مترقی شویدی او د خلکو ذهنیت تغیر کړیدی، چی دا تغیر به په لاندنیو عنوانو کی واضیح شی .

مختصر تاریخ

پر هغه ځای باندی چی د انسانانو مختلفو نسلونو په متداوم ډول سره د یوې زمانی په دوران کی ژوند کړی وی او د انسانی استوګنځی امکان ئې درلودی، که څه هم هغه محیط یه بل وخت کی د انسانانو څخه خالی وی، خو دغه محیط که کوچنی یا پراخ وی او جهانی شهرت ولری په دواړو حالتو کی بیا هم د یوې معینی تاریخچې درلوونکی دی، مګر عموماً په کتابو کی د لوی او پراخ ځایو چی د یوه مملکت پنامه یادیږی او په هغه کی د یوې اوږدې مدې لپاره خلګو په برم ژوند کړی وی د خلګو وضع ئې په مختلفو دورو کی او یا د هغه کسانو کارنامی، فعالیتونه او فتوحات چی تر مملکت د باندی ئې کړی وی د یاد داښت او تاریخ په ډول درج کیږی چی آینده نسلونه ور باندی خبر شی . مګر د کوچنی او د نظره وتلی ځایو په باره کی لیکنی او یاداښتونه ډېر لږ لیدل کیږی، علت ئې دا دی چی کوچنی ځایونه عموماً د لویو ځایو یوه برخه وی نو د دې د پاره چندانی ضرورت نه لیدل کیږی چی علیحده تاریخ دی د یوه محدود

ځای پنامه ولیکل شی .

هغه وخت چی فرخی د ابوالمظفر احمد چغانی دربار ته ورغله د ده په مدح کی شعرونه ویلی دی چی د هغو څخه ئې د داغ ګاه مشهوره قصیده د نمونی په ډول راوړو .

چون پرنده نیلګون به دری
پوشد مرغزار
پرنیان هفت رنګ اندر سر
آورد کوهسار
خاك را چون ناف آهو
مشکذا بری قیاس
بیت را چون پر طوطی برګ
رویدی عمار
دوش رفت نیم شب بوی بهار
آرد باد
مبداء باد شمال و خرما
بوی بهار
باد گوی مشك سوده دارد
اندر آستن
باغ گوی بستان دارد
اندر کنار

فرخی پله څه وخته د چغانیانو د درباره څخه د غزنوی دربار ته تللی دی پا غزنوی دربار کی د سلطا محمود په وخت کی ئې ښ عزت درلودی او د محمو سره په ځینو سفرو کی لک سومات، ورین، کالنجر قنوج او نور چی وهند ته ئ کړیدی فرخی ورسره

ددې څخه معلوميږي چې فرخي د سلطان محمود مخصوص ملنګري و . سربيره پر صفاري او غزنوي شاعرانو په سيستان کې نور اديبان او شاعران هم ستهٔ چې دلته ئې فقط نومونه اخلو لکه :-

شمس الدين محمد بستي ، ظهير الدين ساګزي ، شمس الدين محمد ساګزي ، حافظ مير سيستاني ، قاضي لاغر سيستاني ، مير مهدي سيستاني ، مولانا عاشق ، او مولوي احمد . دا ټولو شاعرانو او اديبانو د سيستان په حوزه کې پر مختلفو ځايو شعرونه ويلي دي شايد ددوي شعرونه دې داوسني ګرمسير برخوته هم منسوب وي .

دهوتکو ، نادر افشار په وخت کې داځايو نه اود «سيستان برخي» اکثره د ملوك الطوايفي په ډول وي شايد پر ګرمسير او شاوخوا سيستان باندي دی پښتو شعرونه او ملي سندري ويل کيدلي مګر

چنداني معلومې نه دي ځيني لنډۍ او بيتونه يا د ښاديو په وخت کې چې ځيني بيتونه جوړ سويدي خوله پر خوله دخلکو دلما بينه څخه اوريدل کيږي لکه چې په ودو کې وايي :-

زموږ واده پر ګرمسيل   نـاوی ژر را سپروينـه
راپسي د سپو وسپـل

يو نفر شاعر چې تقريباً لس کاله دمخه مړ دی دګرمسير د «لکي» په کلي کې ئې ژوند درلودی . ده د شعر ويلو سره ښه ذوق درلود دده د شعر څخه ددوو غزلو کسرونه او دوې ، دوې مصرعی دنمونې په ډول راوړو .

عشق دی لېوني کړم الفت کړه عندالله
ستا مينې زه رسوا کړم نظر وکړه پر ما

څه کوم ژوندون چې جدايم د دلبره
حال مې د مجنون دی بادوم خاوري پر سره
سر پر صحرا ګرزم همېشه يمه ګويا

عبدالقدوس تنها ستا د ديدار په تمنا
عاشق يمه صادق يمه په حال مې سه آګاه
سردار يې د خوبانو ته منلی يې هرچا

په لاندني غزل کې و خدای [ج] ته عذر اود شاعر تصوفي جنبه معلوميږي .

زه عاجز بنده ستايم په
دعايم يا الٰهي
فضل غواړم زمار په ګنهکار
يم يا الٰهي

تمنا د عاقبت مې منظور
کې په دربار کې
مجرم يم نهايت په نيکي مې
هدايت کې

ديدار د عاقبت مې په نصيب
کې مهربان يې يا الٰهي

عبدالقدوس مسکين يم شايق
دخپل دين يم
توبه مې کړې قبوله
شفاعت هم د رسول

دآدين را عنايت کړې
ثنا خوانه يم يارب

✿✿✿

د محيط پوهه

او عقلي بصيرت

عقل او بصيرت دواړه انساني قواوي دي مګر وده او نمو ئې اکثراً په اجتماعي او کورني محيط پورې

اړه لري . که يو طفل د ابتداء څخه په هغه کورني او اجتماعي محيط کې تربيه سي د شاوخوا او دده د

ماحول د خلکو عقل او ذهنيت ئې ښه وده کړې وي طبعاً هغه طفل چې لوی شي د کامل بصيرت او عقل خاوند

وی، برعکس که محیط تاریك اود خلکو ذهنیت ئې ښه ترا وده نه وی کړی نو د ماشومانو تربیه ئې ابتدائی او ذهنیتونه ئې ښه ترا انکشاف نه کوی، تاریك فکره اونافهمه پاتیږی. همدغه د محیط او ماحول تربیه ده که سمه وی دلوړ شخصیت خاوندان پکښې پیدا کیږی او که ناقصه وی د هغه بد محیط د مابینه لری جنایت کاران پورته کیږی.

دګرمسیر د اکثرو خلکو خصوصاً د بزګرا و مزدور کاره طبقې فکر چندانی انکشاف نه دی کړی د خبرو طرز ئې ابتدائی، د کلام فصاحت نلری د خلکو عمومی ذهنیت په عوامه طبقه کی تقریباً د سلو کالو مخکی شاته دی.

د دوی د ژوندانه ټول لوازم آلات، اسباب، خوراك، لباس، استوګنه او اجتماعی طرز ساده راغلی دی. د کرهڼی آلات ئې د پخوانی آلاتو په ډول دی.

دګرمسیر منطقه چی د تاریخ د نقطه نظره کوچنی او محدود ځای دی ځان ته مستقل تاریخ نه لری. پدې لیکنه کی چی د ګرمسیر پر اجتماعی وضع باندی لیکل کیږی د هغه محیط و تاریخی سیر ته په لنډ ډول ضرورت سته موږ دلته ددې مقصد تر سر رسولو د پاره د سیستان تاریخ ته چی د ګرمسیر د پخوانی سیستان یوه برخه وه رجوع کوو تر څو چی دا مقصد تر سره شی.

د پخوانی سیستان حوزه چی د فراه د آخره څخه بیا د چخانسور او د هلمند د ولایت پرخوا تر لښکرګاه پوری را رسیده یوه پراخه او حاصلخیزه ارشو وه چی د قبل المیلاد څخه بیا تر نن ورځی دانسانانو د مختلفو نسلونو استوګنی پر شویدی د متداوم استوګنی علت ئې داؤ چی د هلمند نامداره سیند پکښې غز بدلی او د دواړو څنډو مځکی زراعتی او د خلکو ګذاره د هغه وخت څخه تر نن ورځی ښه پکښې کیږی.

د تاریخی سیر په سلسله کی لومړی پلا هغه وخت چی یونانی سکندر خپل فتوحات د شرق خواته شروع کړه او د فارس تر نیولو وروسته د افغانستان وخواته راتېر شو که څه هم د هرات مشر «ستی-یوزن» او د باختر مشر «بسوس» او د سیستان مشر «باستانتانس» د سکندر د مخنیوی په باره کی په ګډه اتفاق وکړ او د لومړی «دار-یوش» د فارس پاچا ئې مړ کړ، مګر د سکندر په مقابل کی مغلوب سول

سکندر په پوره اقتدار هرات، سیستان او هلمند ئې محاصره کړه او خپل حکومت ئې قایم کړ، چی پله څه وخته د احکومت په سیستان کی ضعیف سو د باختری او یونانی کورنی جلا جلا حکومتونه ورسپدل تر څو چی یوه بله طایفه آریائی خلک چی د سیحون د سیند څخه راتېر سول او د هندوکش په شمال کی دیونانی او باختری کورنیو ته ئې سقوط ورکړاود اسکا-نیانو سره ئې جنګ وکړه څو چی دوه پاچهان ئې مړه سول، ورو-ته د مغلوبیت په وخت کی د سیستان وخواته راغله، د سیستان خلک چی د یونانیانو څخه په تکلیف ؤ دا صحرائی بدویان چی ئې ولیده نسبت ویونانیانه ئې دوې ښه وبلل نو د دوی سره ئې اتفاق وکړ تر څو د ساکانو د مابینه یوه قبیله د پهلوا په نامه پیدا سوه چی هغوی د ۴۸، ۹۱ ق م پوری په سیستان کی حکومت وکړ، ویل کیږی چی دوی پر هغه ځای د ساکستان نوم کښېښود چی نن ورځ هغه په کثرت د استعمال سیستان

شویدی. تردې وروسته هغه وخت چې د کوشانیانو پاچا د انحطاط په دوره سو نو یفتالیانو پر سیستان تصرف پیدا کړ تر څو چې د ساسانیا او یفتالیانو جګړه (۴۲۵م) کې پېښه او ساسانی پاچا مغلوب او د لوط پر دښت د یفتالیانو د خوا ونیول سو تر څو چې د خپل زوی په تضمین خلاص شو.

وروسته تر یفتالیانو د سیستان منطقه د ملوك الطوائیفی په ډول د خانانو د خوا اداره کېده پدې وخت کې د یفتالیانو بقایا کابل شاهان په خارجی شخړو اخته وه د ملوك الطوائیفی د دورې څخه وروسته د سیستان پر ساحه د عربو هجوم راځی دا د دریم خلیفه حضرت عثمان «رض» د خلافت زمانه وه چې لومړی پلا د سیستان حوزې ته لومړی وار «ربیع» د «زیاد» زوی راغلی هغه وخت چې د هرات خلکو د عربو نائب مړ کړ نو د سیستان خلکو هم «ربیع» د زرنج څخه وایستی چې بیرته بصرې ته ولاړ او د بصرې نائب د خلیفه یه امر د «زیاد» زوی راولېږی او زرنج ئې ونیو. اما د بست خلکو مقاومت ورته وکړ خو مات سو، او بصرې ته ولاړ. بله پلا د بصرې څخه د خلیفه په امر «ثمره د عبدالرحمن» زوی راغلی چې فاضل حقوقدانان او فقها ورسره ؤ، سیستان ئې محاصره کړ، د فقهاؤ مشهور سړی «ابوالحسن بصری» ؤ.

تردې وروسته عربی حکومت د سیستان پر حوزه استقرار حاصل کړ او آرامی شروع سوله، مګر د دغه ځای نماینده ګان چې په عربی دربار کې ؤ خپل په ما بین کې پټ د آزادۍ حرکت درلودی او غوښته ئې د آریانا پخوانی خپلواکی لاس ته راولی د نماینده ګانو د جملی څخه چې د آزادۍ فکر ئې درلودی: طاهر، خراسانی ابوالمسلم، د سیستان، محمد، بشیر او حمزه نامان وه.

د عربو پاچا چې په سیستان کې حکومت درلودی «واثق الله» نومېدی په ۲۲۲ هـ کال دده په زمانه کې د «صالح» په نامه راپورته سو، او عباسی حکومت ته ئې په سیستان او نورو برخو کې د هلمند او اراکوزیا ته خاتمه ورکړه او یو نفر «یعقوب» نومی چې عسکری سړی ؤ د هغه په ملګرتیا ئې آزادی واخستل او یعقوب ئې خپل مشر کړ، مګر یعقوب وروسته تردې د حکومت د نیولو فعالیت کاوه صالح چې دده د دې اقدام څخه خبر سو یوې نامعلومی خوا ته وتښتېدی د سیستان خلکو د «درهم» په نامه یو سړی خپل پاچا وټاکی درهم وغوښتل چې یعقوب مړ کړی، یعقوب چې په خبر شو د کودتا په ډول ئې د حکومت واګې په لاس کې ونیولې، وروسته ئې طاهری حکومت ته خاتمه ورکړه او د صفاری کورنی په نامه ئې په سیستان کې حکومت جوړ کړ امکان لری چې د موجوده ګرمسیر د صفار د کلی نوم دی د صفاریانو د زمانی څخه په یوه علت پر دغه ځای پاته وی یا شاید د یعقوب لیث د حکومت نیول دی لومړی پلا پر دغه مځکه باندی وی (مګر داخبره د یوه سند له مخی نه کوم بلکې یو تخمین کوم) د یعقوب وروسته دده ورور عمر لیث د سیستان حکومت ته ورسېدی چې په ۲۸۷ هـ کې د سامانیانو د حملی په نسبت د اسمعیل پاچا په لاس میداد ته بندی و لېږل شو چې هلته په زندان کې مړ سو.

تر صفاریانو وروسته د سیستان ساحه د سامانی حکومت جز ؤ، هغه وخت د سامانی د دربار لوی مارشال البتکین د یوې کودتا په ترڅ کې سامانی دربار ته خاتمه ورکړه.

د آل ناصر کورنی چی البتکین ورته منسوب دی ددې کار سو چی پدې وخت کی د هلمند دوو شاهزادګانو «بای نور» او «توغان خان» په خپل منځ کی جنګ سره وکړ . البتکین پر هلمند اوسیستان موقع پیدا کړه اودا برخه ئې ونیول . باید وویل شی چی د آل ناصر خاندان چی غزنوی خاندان دی دهلمند په ثقافت کی ښه د قدروړ خدمت وکړ اود سیستان دحوزې کلتور ئې ښه ترا اوچت کړ دالبتکین وروسته دده زوم «سبکتکین» پاچا شو چی ترهغه وروسته ئې زوی محمود په غزنی کی حکومت ته ورسېدی . سلطان محمود دغزنوی خاندان ستر شخصیت ؤ چی په هلمند کی دقدر وړ خدمتونه کړیدی، د لښکرګاه دحکومتی ماڼی او عسکری چوڼی اساس دده په وخت کی ایښوول سویدی چی دلښکری بازار په نامه یادیدی، تر ده وروسته دا ځای دده د زوی سلطان مسعود دخوا ښه ترا تکمیل شویدی .

محمود او مسعود به د ژمی په وخت کی خو میاشتی د غزنی څخه دخپل ټولو شاعرانو، افسرانو اود غزنوی دربار د عملی سره د بست علاقی ته نقل مکان کاوه اود موجوده لښکرګاه څخه به ئې د ملک اداره کوله . ددوی ددورې دشعر ؤ ادب، هنر، علمیت اونورو اجتماعی اوضاعو طبعاً دسیستان اوبست دخلکو په ذهنیت کی ښه ترا په هغه وخت کی اثر اچولی وو .

تر غزنوی کورنی وروسته د غوریانو کورنی پر سیستان هجوم راوړی ، غوری پاچا جهان سوځونکی علاؤ الدین دهغه انتقام په سلسله کی چی غزنوی پاچا دده ورونه ور وژلی ؤ دخپلو ورونو مړی دغزنی څخه وغورته وړی وروسته غزنی وسوځی او یوه میاشت وروسته ئې د لښکرګاه سلطنتی قصر او د بست ښار ته ئې هم اور واچاوه ۸۰ کاله تردې دحشت وروسته په ۱۳م قرن کی د چنګیز هجوم پر بامیان، آراکوزی اوهلمند باندی راځی . بندونه، ویالې زراعتی مځکی، ښارونه او ملی مرکزونه سوځی او خرابوی کم چی سیستان هغه تمدن د غزنوی دورې په وخت کی حاصل کړی ؤ سخته صدمه وینی .

تر چنګیز وروسته بیا تر تن ورځی پنځه نیمه پېړی دمخه د تیمور لنګ هجوم راځی چی تیمور لنګ دسیستان مشهور بند، ویالی، تعمیرات اونور آثار خراب کړه . هغه خرابی چی د چنګیز دلاسه په سیستان کی پېښی سویدی پوره نه دی تر میم سوی چی دده د نسل دوهمه پلا «تیمور» پر راورسېدی او ښه ترا ئې داځای خراب کړ .

د تیمور تر هجوم وروسته سیستان د یوه مړه ښار په جمله کی حساب سو .

وروسته بیا پر سیستان د صفوی (ایرانی) خاندان سلطه تر آراکوزیا پوری رارسیږی چی په پای کی د شاه حسین صفوی په زمانه کی داځای دصفویانو څخه خلاصیږی اود کندهار هوتکی خاندان د سیستان اداره د کندهار څخه کوله .

تر هوتکی خاندان وروسته د ایران له خوا نادرافشار راپور کیږی چی سیستان، کندهار اود هلمند نوری برخی نیسی اوهند ته ورځی . کله چی نادرافشار په هند کی ووژل شو تر هغه وروسته ابدالی احمد شاه چی د دورانی کورنی مؤسس دی په کندهار کی پاچا کیږی او د سیستان واک هم په لاس کی اخلی .

«پاتې لری»

ښاغلی [مخلص]

اور د مینی دی چی کور د عاشق سوځی

یادی نه ځی د خوږې مینی پر لار څوك
یادی تېرشی ترخپل سرچی کړی دا کار څوك
سی به ورك که افلاطون د زمانی وی
چی ورګډ شی د مینو په بازار څوك
د پېغور کاڼی به تل باندی اوریږی
ولی نه پرېږدی پر سمه تړه خوار څوك
اور د مینی دی چی کور د عاشق سوځی
که نه څه وړی پر سر د غم ناتار څوك
چی په وېړه خوله د خلقو ترمنځ خاندی
څه خبر د زړه په وینو د آنار څوك
زه «مخلص» به حال د پټ خوږو څرګنده کړم
ګټه نه کوی پالنه د پرهار څوك

د «حمید»
څلوریځه

عاشقی ده واقعی د سود سودا
ځکه سرور کوی شمع په خندا
چی بازه شی سرومال په عاشقی کی
دا سودا ده دغه سود لره پیدا

خلوریځی

څوك چې تل ګډوی د خپل ځان په ستایش
د هغو پر حال ژړا راځی وېش وېش
سر ئې نشته که ئې پورته کړې خولی
د اوبو د سرکوبی ده منځ ئې تش

✡ ✡ ✡ ✡

له رشوته چې کړی درست عمر معاش
خود بایلل به دی په نرد وی یا په تاش
چې په دې توګی ګټی هسی ښندی
جانه ستا پرهو ښیاری باندی شاباش

✡ ✡ ✡ ✡

غټ کوټی لکه کېو لری میان تش
در څر ګند خپل نه کړی لوړ په ګمان تش
موږ په دې کړو پرتا خیال د ناپوه
چې ځان ډك ګڼی له عقله جهان تش

✡ ✡ ✡ ✡

مال دی ډېر کړ لاناري وهی ایکاش
که څه نور می لاس ته راووست په تلاش
دقارون هم پر ښه نشو څه ګمان
چې پرتا باندی به زړه شی دا قماش

✡ ✡ ✡ ✡

بېلوی وینه دنیا چندن او غز
خرڅ به نشی د اوزګړی پوست په خز
عزت هغه کام میندلی چې ئې مال
په زرو غوټو کښی کم نه وی یو ګز

✡ ✡ ✡ ✡

پر دنیا چې په وفا شی څوك ممتاز
هر سړی بی کړی له ځان سره همراز

ښاغلی [لایق]

وړې قطرې

څه کوی دا سره کوچنۍ وریځه له آسمان سره؟
څه غواړی ډومبسکی له موجونو د طوفان سره
ولی دا مخ تور بشر نارې د آزادی وهی
څه دی دلاس ماتی دمړوند له امتحان سره
نه نه، ای شاعره ته وهمونو غولولی ئې
ګوره چی لا څه کړې دا مجبور له این و آن سره
دا ما شوم ډومبسکی په موجونو کی اسیر نه دی
دا بڅر کی وریځه سپکه نه ده له آسمان سره
دې وړو ته ګوره په واړه نظر ونه ګورې
مل که ئې قطره نه وی نو څه دی له طوفان سره
دا وړی قطرې به عالمونه لاندی باندی کړی
یو که شی له میل د زمان او د مکان سره
مه اخله نظر بلند نظره له دې ټیټو نه
سپک به دی شی وزن د جګوالی له میلان سره

ادبی ټوټه

سورګل!!

یواځی د نظر لاس ور رسېدلای شو؛ دهسک کمره د پاسه سورګل زرغون شوی ؤ، د اوچت اونرۍ پاڼ په سر ناست وو.
د لمر طلایی تاج ئې پر تندی ایښی ؤ او دغره په کاڼو، بوټو ئې سلطنت کاوه.
پرخی به ئې مخ او سر و پنجه د سهار نسیم به ورته پخپله زنګو کی نرمی جوټی ور کولی.
خو سره ګل، ته ځان یوازی ښکارېده، درسته شپه به ئې پرخپله بېکسی ژړل.
د نظر خاوند څوک نه ؤ چی سره ګل خپل د جمال ننداره د هغه په سترګو کی کړی وای په اسرار به ئې د خوشبو ډکی وږمی یو خوا بل خوا خپرولی.
بس دا نسان تشو کتلو ته به سهار او ماښام په لار ولاړو.
خو افسوس؛ چی د نظر خاوند څوک نه وو!!
هو! چی د چا ښکلا او حسن په کاڼو او بوټو کی عبث تېریږی خود به ئې زړه د وینو ډک وی!!

محمود بند نه وو په لومه د ښایست
مین شوی وو پر ښه خوی د ایاز

✡ ✡ ✡ ✡

که زر کاله یی ژوندی پای به شی مړ
هوښ کوه چی ګور ته ولاړ نه شی ککړ
«مخلص» ښه دی نن زحمت نسی
نه قیامت کښی په مردارو خوړو پړ

ښاغلی [الفت]

د حقیقت ورځ

چی پلو له مخه لیری د هر چا شی
دا رنګینی جامی څیری دریا شی
حقایق ټول را بهر شی له حجابه
پټ کارونه را څرګند زما اوستا شی
که رازونه که رمزونه که اسرار دی
لکه ستوری د آسمان هسی رسوا شی
مقصدونه ، غرضونه ، عملونه
بی پردې او بی سیرته بر الا شی
د تلبیس رنګونه ټول واړه شی محوه
په خپل څېر ښکاره رواؤ ناروا شی

د هر چا زړه کښی چی هر څه دی لیکلی
دی په خپله د هغه نقش ګویا شی
هغه دغه ښه او بد مخونه لوڅ کړی
توره شپه له منځه ولاړه شی سبا شی
لیک د حق او حقیقت وی په هر لاس کښی
د تیارو شپو واقعات واړه رڼا شی
ډېر ښایسته او سپین مخونه به تک تور وی
ډېر ښاغلی به په دغه ورځ سر تور وی

سکته او سپما

پور در لوول د طلبونکی په مقابل کی یو ډول بند دی .
پوروړی بېله دې چی په ځان دی پوه شی هیڅ وخت سم فکر او ښه خوب نه لری.
پوروړی چی هر ځای ولاړ شی فکر ئې خراب، او غوښتونکی ئې ترسترګو دوری، دوری کیږی .
پوروړی د مسافری په نیت کی یوره آزادی نه لری.
د نه پوروړی کېدو ښه لار په خرڅ کی سکته او سپما ده .

ښاغلی [غمشریك]

لېونی سندره

د چادو ږو تږو کونډو یتیمانو په نوم
د چا دلوڅ لغړ بی وزلو ماشومانو په نوم
د ځینو خوارو ، غریبانو بېکسانو په نوم
دهغه څیری ګرېوانونو مظلومانو په نوم
ما لېونی ته لېونی سندری خوند را کوی

دچا دچاودوچاودو پښو او چاودوزړو په خاطر
دچا د تړمو تړمو اوښکو توئېدو په خاطر
دچا د لاسو د تڼاکو او سلګو په خاطر
دچا د وېر او د ژړا او کړاوو په خاطر
ما لېونی ته لېونی سندری خوند راکوی

زه خو د مینی لېونی یمه غمونه ګالم
د یار د شوخ نظر دپاره کړاوونه ګالم
په احترام د خپلی مینی به دردونه ګالم
لوږی او تندی هم تنګڅی او شوګیرونه ګالم
ما لېونی ته لېونی سندری خوند راکوی

بس د وطن د سرلوړی او آبادی دپاره
دهغو اوو ملیونو وروڼو خپلواکی دپاره
د قام او ملك د لوړېدو او ترقی دپاره
سر او مال دواړه جارومه د سیالی دپاره
ما لېونی ته لېونی سندری خوند راکوی

ما ته د کوراو کلی دواړونه صحرا غوره ده
د تاج او تخت ځینی مجنون ته یوه لیلا غوره ده
د بی دردانو له عیشو راته ژړا غوره ده
د بی غمی نه راته مینه او سودا غوره ده
ما لېونی ته لېونی سندری خوند راکوی

زما جګړه ده بی دردانو ظالمانو سره
د رشوت خورو خاینانو حاکمانو سره

د قام فروش او بی‌ضمیره انسانانو سره
د ځان پرستو جاه طلبو بی ننګانو سره
ما لېونی ته لېونی سندری خوند راکوی

زما سودا ده د وطن بله سودا څه کوم
زما ژړا د قام دپاره زه خندا څه کوم
که په دې لاره کښې لوګی شمه پروا څه کوم
دهغو مستو عیش پرستو مشغولا څه کوم
ما لېونی ته لېونی سندری خوند راکوی

زما جنون هسې جنون دی چې خودی راولی
زما مستی هغه مستی ده چې هستی راولی
زما غمونه هسې دی چې خوشحالی راولی
دا ترمی وبنګی می وطن ته آبادی راولی
ما لېونی ته لېونی سندری خوند راکوی

که لېونی یمه خو ننګ لرم پښتو لرمه
دزړه جهان کښې دقومی لوړتیا آرزو لرمه
غم او سودا د خپلو وروڼو پښتنو لرمه
زه «غمشریك» دقام غمونه په ځولو لرمه
ما لېونی ته لېونی سندری خوند راکوی

هنر

هغه څه چې باطن په تظاهر سره ښکاره کوی هنر دی د دباندنی اودننی قشر درلوونکی دی چې په دباندی شکل کی ښکاره کیږی.

یعنی دباندی قشر، مثلا په موسیقی کی اصوات، په شعر کی کلمی په نقاشی کی رنګونه، چې دا ټول حسن بلل کیږی مګر حال داچې د هنر باطنی قشر هیڅ نه لیدل کیږی. چې هغه عبارت د ژوند، حالت افکار او داسی نورو څخه دی.

هنر یوانسان همیشه مجذوب ګرځوی او هر هغه څه چې انسان جذب کوی وایو چې: ښکلی دی یعنی د ښکلیتوب قیمت ئې خپل دی نه دبل څه په خاطر.

هنر د ژوند لازمی شی دی او یو هنرمند باید پخپلو تېزو او کنجکاو افکارو هر څه وپلټی.

هنر او اخلاق دواړه جذب کوونکی دی. خو فرق ئې دادی چې اخلاق د کردار عکس او هنر د ژوند د رهنمایی هنداره ده.

هنر او فلسفه دواړه د یوه نفنی عالم حکایت کوی خو فرق ئې دادی چې فلسفه د کلی مفهوم سره سروکار لری مګر ترسیم کولای ئې نسی خو هنر په ښکاره او بی ماننده مفهوم سره لګیا وی چې هغه څه واضحاً ترسیموی.

هنر مختلف ډولونه لری:-
ادبیات، موسیقی، نقاشی مجسمه سازی، معماری، زینت-کاری.

پاته په ۱۸ مخ کی

شپېلۍ

لکه څنګه چې د موسیقۍ د آلو اصلي تاریخ معلومول ګران کار دی.

نو موږ هم د شپېلۍ د پوره پیدایښت په باره کې څه نسو ویلای.

پخواني آریایانو د موزیك درې ډوله آلې پېژندلې لکه تارلرونکې آلې پوك وهونکې او لاس وهونکې، د پوك وهونکو آلو په سلسله کې یوه شپېلۍ ده.

شپېلۍ د ساز په ټولو آلو کې یوه ساده آله ده لومړی طبعي آواز چې سړی ئې دخوند د ښودلو د پاره دژبې او غاښونو د سوریو په کمك راوباسي شپېلۍ ده، دغه دخولې غاښو او ژبې طبیعي آواز که په کومه آله کې ښکاره شي نو شپېلکې او شپېلۍ ځنې جوړه شي.

شپېلۍ یوه وړه آله ده چې په آواز کې دخولې شپېلکې ته بېخي ورته ده او لږ لویه ده ددې د پاره چې مکرر او پرله پسې آوازونه راوباسي.

واړه هلکان دغنمو له ډانډۍ څخه واړه، واړه شپېلکې یا پونکې جوړوي چې د پوکولو پواسطه آوازونه ځینې راوزي. چې داسې آلې د شپېلۍ لومړی شکلونه دي چې پدې حساب شپېلۍ د ساز یوه ډېره پخواني آله ګڼلای شو.

نظریه دا ښکاره کوي چې کوم وخت چې انسان د خولې شپېلۍ وهل زده کړي وي نو ژر به ئې د شپېلۍ وهلو چل هم ورپسې زده کړي وي.

د ویدي سرودونو له مخې معلومیږي چې شپېلۍ څلور زره کاله پخوا د بلخ او باختر په شاهي دربار کې وهل کېدله.

د ریګویید یو شاعر وایي چې: «د شپېلۍ او تولۍ ږغ د «یاما» له بختور ټاټوبي او مسکن څخه اورېدل کیږي.»

هر کله چې د یاما ټاټوبي په بلخ کې د «وارا» مشهوره ماڼۍ وه نو ځکه دغه سیمه د آریا ګو د شپېلۍ لومړی مرکز کیږي.

«جارج فارمر» لیکلي دي چې د چین له افسانو څخه داسې معلومیږي چې دوی څلورزره کاله پخوا د شپېلۍ د راوړلو د پاره «لنك لن» نومې سړی «بلخ» ته لېږلی ؤ.

د ننګرهار د هډې په راوتلو برینو تصویرونو کې شپېلۍ هم د ساز په آلو کې د وهنې په حال کې لیدل کیږي او

د کنیشکا د زمانې کومې مجسمې چې راوتلې دي او عکسونه ئې د پښتون ږغ په مجلو کې چاپ شویدي په هغه کې د شپېلۍ عکس هم په پوره ډول ښکاري.

له دې خبرو څخه څرګندیږي چې شپېلۍ د افغانستان یو ډېر لرغوني ساز او د زړې زمانې د آرکسترا د آلاتو یو مهم جز دی.

«سورنی، بین او شپېلۍ» درې واړه پوك وهونکې دي چې په اصل کې د لرګي څخه جوړې شویدي چې بیا وروسته له تانبې او نورو فلزو څخه هم جوړ سویدي.

د هنر پاڼه برخه

ادبیات بهترین هنري موضوع ده او ادبي آثار پر درې ډوله دي:

۱. غزل.
۲. حماسه.
۳. ډرام.

او په هنر کې آزادترین هنر موسیقي ده، ځکه موسیقي کولای شي چې دقیق ترین حالات د زړونو شرح کړي.

«پای»

ډاکتر غیب حسین د آجکل د مجلې د موسیقۍ په ګڼه کې لیکلي دي چې شپېلۍ د نصرالدین طوسي ایجاد دي مګر دا روایت صحیح نه دي ولې چې دغه آله ډېره لرغوني او زړه ده.

شپېلۍ د لفظي او لغوي جوړښت له مخې د پارسي (شیپور) سره نژدې-والي لري. که څه هم شیپور د ټروم په معنا دي. زما په خیال شپېلۍ، شپېلي او شپېلکي او شیپور کې د «ساپو» یعنې ساپو کلو معنا پرته ده چې پدغه ټولو آلو کې ساه کښته او پورته کیږي شپېل په پښتو کې یوه بله معنا لري چې سړي په غاښونو د ساه کښو په کومك د جوارو دوږي یا هډو کې څخه دانې یا غوښه را کاږي نو دې ته هم شپېلۍ وایي ولې چې پدې کې هم د ساه پو کلو او ساه پیلو معنا پرته ده.

په هر صورت مطلب دادي چې شپېلۍ یا توله د پښت بخد او بلخ د ښایسته او ښکلي سیمې یو تاریخي ساز دي چې له دې خاوري څخه لوېدیځ او ختیځ او نور ځایو ته تللي دي او جلا جلا شکلونه او ډولونه ئې موندلي دي

د پښتو نخواغرونه، سیندونه، درې او ډاګونه له څلور وزرو کالو راهیسې د شپېلۍ د خواږه ږغ سره داسې آشنا دي چې هیڅ کله یو له بل سره جلا کېدای نه سي.

د شپېلۍ آواز د شپونکي او چوپان د ټول عمر یو خوږ ملګري او دده د رمو او ګډو وزو د ژوندانه ساه ده څومره چې د شپېلۍ او شپون د کلمو ترمنځ لفظي نژدې-والي موجود دي نو هغومره په وهلو او ږغولو کې هم یو له بله سره تړلي دي.

[د ژوند سندره]

بېتا خوند نه کوي

د سهار وږم ډېر خوږ دي!..
هلته چې مرغان وختي پورته سي..!
هلته چې لمر لومړي وار پر مځکه وغوړیږي..!
وړانګې ئې پر ونو، مېوو او ګلانو ولګېږي..!
او پرخې ځلانده کې..!
د ماښام راتګ هم خوندلري..!
چې بیا نو پسې غلي شپه وي..!
ښایسته سپورمۍ او د ستورو رکښه ښکارېږي..!
مرغان غلي وي..!
چې نرۍ باران و اورېږي..!
نو د مځکې وږمه د لونګو بوي ورکوي..!
هو کې؛ دا ټول ښه دي..!
خو یو د دغو څخه هم بېتا خوند نه کوي..!

«ملتن»

آیا پوهېږئ:-

چې د لمر کره د ډېرو تودو غازاتو څخه جوړه شوېده او د لمر د سطحي تودوالي د سانتي ګراډ په حساب په اټکلي توګه شپږ زرو درجو ته رسیږي.

لیکونکی : محمد اسماعیل [زاهل]

عشق؛ د صوفیانو او د نړۍ د پوهانو په عقیده !!

د عشق (مینې) له کلمې سره که څه هم د نړۍ خلک د ډېرو پخوا زمانو څخه بلد سویدی . شاعران لیکونکی او عوام خلک ئې ټوله په هر ځای او هر وخت کې استعمالوی .
په پخوانی یونان کې عشق یوه الهه د «آفرودیت» پنامه درلوده او په هغو وختو کې په روم کې هم د عشق الهه د «ؤنوس» پنامه یاد بدله او په پای کې عشق په سوزونکی اور مسمی شو .

مګر سره د هغه هم د عشق کلمه د نړۍ د خلکو په ذهنو کې مختلفې او ډول، ډول معناوی لری . د نړۍ له ستر و پوهانو څخه نیولی بیا تر صوفی او عارف پوری هر یو د دې کلمې د پاره جلا او ځان ته عقیده لری یعنی ځینې خلک

عشق پاک، جاوېدانی او آسمانی بولی . څوک ئې شهوانی ناپاکه او موقتی ښکاره کوی او ځینې نور په ډېره عادی ستر ګه ورته ګوری لکه چې فرانسویان «عشق» یو کمیدی بولی او معمولا خپل د خندا، ساعتیری او تفریح د پاره

عاشق (مین) کیږی، حال داچې د انګلیسانو په نظر کې عشق یوه «تراژیدی» ده او دغه سبب دی چې که د نسل د بقا غریزه نه وای انګلیسانو به هیڅکله واده نه کولای.

په ایټالیه کې عشق؛ یوه «اوپرا» ده هغه هم یوه ناپایداره اوپرا .

جرمنیان عشق د یوه «ملوډرام» په حیث قبلوی او د اسپانویانو په نظر کې عشق یو «دوئل» دی چې په پای کې نر یا ښځه بریالی کیږی.

دغه ډول عشق د یوه عرب د نظریې له مخې د څوماندینو د زړو دل دی .
اسکاټلینډیان د عشق کلمه «د خپلې ښځې د پلار او مور یا خپل د مېړه د مور و پلار په شتمنی» تعبیروی .
د اسکاندناویا خلک عشق یو ډول لېونتوب شمېری او د هاوائی د خلکو په عقیده عشق یو ډول «نخا» ده .

دغه ډول د ځینو خلکو په عقیده د عشق (مینې) ډولونه خورا ډېر دی لکه: د پلار او مور عشق له اولاده سره د نارینه مینه له ښځې، او د ښځې مینه له نارینه سره ؛ د جاه و جلال مینه، د وطن مینه، د شتمنی مینه، د مسلک او

مذهب مینه، د وظیفې مینه او نور داسې چې پدې ټولو ډولو کې د مور و پلار مینه ډېره سپېڅلې، مقدسه او لوړه یاده سو یده او له هر ډول چل وول څخه پاکه منلی شو یده

په هر حال هغه خبره چې ډېره ثابته، مسلمه، هیڅ شک او تردید پکښې نشته هغه داده چې مینه (عشق) موجوده ده او د نړۍ پر موجوداتو ډېره اغیزه

لری او د ژوندانه د تحولاتو او تغیراتو سبب ګرځی، یعنی په هر چا کې د مینې قوه داخله شی د هغه اخلاق کرکتر او د ژوندانه لار له نورو خلکو څخه جلا کیږی.

زه غواړم چې دلته د عشق د کلمې د لغوی معنا تر څېړنې وروسته د نړۍ د ځینو پوهانو او د اسلام د ځینو

مشهورو صوفیانو او عارفانو عقیدې او نظریې د عشق (مینې په باب و ښاغلو لوستونکو ته وړاندې کړم.

د عشق د کلمې لغوي معنا

عشق یوه عربي کلمه ده چې د هغې لغوي معنا « په دوستي کې ترحد تېرېدل» راځي . او د عشق په هکله د نړۍ د ځینو فلاسفه ؤ او اسلامي صوفیانو او عارفانو عقیدې او نظریې په لاندې ډول دي.

«الف» افلاطون .

افلاطون د عشق په هکله داسې عقیده او نظریه څرګندوي:-

« د انسان روح دمخه تردې چې په خپل خاورین چوکاټ (بدن) کې ننوزي، په عالم مجردات کې حقیقي ښکلا او زیبائي پیدا کړي او پر هغه مینه شوېده، پدې دنیا کې څنګه چې دمجازي ښکلا سره تماس پیدا کوي نو هغه حقیقي ښکلا چې دي په عالم مجردات کې لیدلي او پیدا کړي وه ور په یاد اود دنیائي معشوقانو د ښکلا په لومه بندیږي .

څرنګه چې ددې مینې اصل او ریښه پدې دنیا کې نشته او روح وهغه ته نشي ور رسېدلای، نو دغه سبب دي چې بېتابي کوي او نارې سوري وهي او د ژوندانه ټولي شپې او ورځې ترخې باندې تېریږي» .

دافلاطون له عقیدې څخه داسې څرګندیږي چې مینه یوه حقیقي او واقعي قوه ده چې سپېڅلي او ابدي حالت لري او مین تر مرګ دمخه ودې ابدیت ته نشي رسېدلای.

✡✡✡

«ب» ډاکتر ریولان .

دي د مینې په هکله داسې وایي :-

« عشق په مطلق ډول وجود نه لري؛ نه خدائي موهبه ده او نه پرټولو مافوقه قوه، پس عشق په واضح او ښکاره معنا وخپل مخالف جنس ته یو میل دي یا په بل عبارت یو میل دي و عمل جنسي ته » .

په پای کې دي وایي « عشق داسې دي لکه اشتها ؛ په لوږي یا تنده کې یعنې وختي چې تاسې وږي شۍ نو غواړۍ چې څه وخورۍ او ګېډه په ډکه کې. دغه ډول وختي چې عاشق سۍ دهغې اشتها او لوږي غوندي یو تمایل ستاسې په وجود کې پیدا کیږي او غواړۍ چې خپله جنسي غریزه مړه کې او دغه دجنسي غریزې تمایل ته عشق وایي یعنې که چا وویل زه عاشق یم ګویا په حقیقت کې غواړي چې ووایي ډېر میل لرم چې خپله معشوقه جسماً تصرف کړم» .

ډاکتر ریولان خپل ددې عقیدې او نظریې د ټینګوالي او ثبوت دپاره دیوې ښځې په هکله داسې وایي:-

« یوه ښځه تر هغه وخته پوري ستاسو سره عشق او مینه لري او خپل ځان تاسې ته درسپاري څو چې تر تاسې بل ښه سړي په لاس ور نسي» .

دډاکتر ریولان له عقیدې او اظهاراتو څخه داسې څرګندیږي چې مینه یوه شهواني، ناپاکه او ناپایداره قوه ده یعنې دلوږي او تندي په شان یوه موقتي غریزه ده چې د ذېروح دمرګ او نابودېدو سره یو ځای له منځه ځي او پایښت نه لري .

✡✡✡

«ج» ژاک مارسیرو .

دي وایي :-

« عشق یو ډول کشش او جذبه ده چې دانسان په وجود کې په یوه ټاکلي وخت ښکاره کیږي او دهغه وفکر او

خیال ته تغیر ورکوی او په همدغه وخت کی معشوق یا معشوقه د عاشق په نظر کی دیوه ډېر کامل او ښکلی موجود حیثیت پیدا کوی پداسی حال کی چی د عاشق دغه ښکلی او کامله موجود به د نور و په سترګو یو عادی او معمولی موجود وی » .

ژاک مارسیرو هم عشق دیوې جذبو نکی او اغیزه ناکی قوې په حیث تمثیل او موجودیت ئې ثابتوی مګر نه د هغه پر ابدیت او موقتی والی څه وایی او نه ئې شهوانیت یا پاکوالی ته اشاره کوی .

✡✡✡

« د » صوفیان .

د صوفیانو مسلك و محبت او مینی ته فوق العاده توجه لری ، د محبت او مینی ژوره اغیزه د نفس په تجلی او سپېڅلتوب ، د رذیله او خبیثه خواصو په ورکېدلو او عالی صفاتو ته درسېدلو په لارکی ډېره مثبته او قاطع شمېری .

دوی وایی : « د تصوف مسلك عبارت له محبت او مینی څخه دی » .

دوی د عشق او مینی یوازنی ځای زړه بولی او وایی : زړه باید له عشق او سوزه ډك وی ؛ هغه زړه چی عشق او سوز نه لری زړه نه دی لکه [آهی چغتائی] چی وایی :

گر با غم عشق سازگار آید دل
بر مرکب آرزو سوار آید دل
گر دل نبود کجا وطن سازد عشق
ور عشق نباشد به چه کار آید دل

صوفیان عقیده لری چی مینه او محبت د روح د پرورښ او پاکی وسیله او وحقیقت ته د رسېدلو لار ده د ټولو دردونو او علتونو دوا ، او د ژوندانه د روند بار سپکوی ، د عشق او مینی په سیمه کی د ښمنی او کینه ، نفاق او نفس پرستی ، لذت طلبی او هوسبازی .... ټوله مغلوبه او له مینځه څخه ځی او د هغوی ځای صلح او صفا ایثار او خدمت ذکر او اطاعت ... نیسی لکه چی مولانا صاحب رومی پخپل مثنوی کی داسی وایی :

از محبت دردها صافی شود
و ز محبت دردها شافی شود
از محبت خارها گل می شود
و ز محبت سرکه ها مل می شود
از محبت سجن گلشن می شود
بی محبت روضه گلخن می شود

هو! د صوفیانو ډله په خپل زړه کی د « اللهی محبت » د خدای د محبت صنع سیل کوی هر وخت ئې « اللهم یا صانع کل مصنوع » پرژ به جاری ، او د ټولو هستیو اساس او بنسټ محبت و مینه بولی او وایی :-

« څښتن تعالی [ج] یو پاك ذات وو چی انسان ئې پیدا کړ خودی و پېژنی او یو له بله محبت و مینه سره ولری ؛ څرنګه چی آسمانی فرښتی د دې ستر خلعت لایقی نه وی نو ئې د خلعت د انسان په نامه ختم کړ لکه چی حافظ صاحب شیرازی وایی :

در ازل پرتو حسنت ز تجلی دم زد
عشق پیدا شد و آتش بهمه عالم زد
جلوهٔ کرد رخت ، دید ملك عشق نداشت
عشق آتش شد ازین غیرت و بر آدم زد

د صوفیانو په عقیده ، عشق او مینه یو داسی حالت دی چی هر څوك څښتن تعالی [ج] د هغه مستعد ووینی و هغه ته ئې وربخښی ؛ د عشق او مینی جاذبه د عالم په ټولو ذراتو کی موجود ګڼی ، د خلقت د ټولو اسرارو او رمزونو کلی یوازی محبت بولی د ټولو دردونو دوا یوازی او یوازی د محبت په واسطه امکانی شمېری یعنی

عشق ؤ مینه یوه خدایی موهبه ، ابدی ؤ بـا ارزښته نعمت پاك ؤ سپېڅلی حالت، داجتماعی اخلاقو مؤلد او د روح صیقل ګڼی او ددغه عشق په واسطه انسانی مقـام تر ملکوتی مقام لوړ او ستر بولی .

✡✡✡

«ه» هنری وارد یچر .

دی وایی: « عشق پدې دنیا کی د ژوندانه سیند دی چی په پای کی په اوقیانوس ګډیږی ، تر څو چی تاسی ددې سیند په څپو او باډاسکو کی ښه لاس او پښی ونه وهی دعشق و حقیقت ته نشی رسېدلای » .

د هنری وارد یچر عقیده هم افـلاطونی عقیدې ته ورته او عشق ته ابدی رنګ ورکوی .

دی د عشق او مینی رود د ژوندانه په سیمه کی نه تماموی او تر سیمی د باندی ئې و یو لوی اوقیانوس ته ورتویه وی، او دحقیقت د مرغلری د پیدا کولو د پاره د لمبو وهونکی و ډېر زیارا و کوښښ ته اشاره کوی .

✡✡✡

« و » شاتوبریان .

دی دعشق په هکله داسی عقیده څرګندوی:-

« عشق او ازدواج (واده) د روانشناسی له مخی د دوو نامکملو روحونو او نیمګړو شخصیتو اتحاد او یووالی دی چی یو د بل د تکمیل او بشپړېدو د پاره فعالیت او کوښ کوی » .

✡✡✡

« ز » اعلامی عرفا .

اسلامی مشهور عرفا سره ددې چی څښتن تعالی [ج] تر هر څه لوړ حتی تر خیال او قیاس، ګمان او وهم لاهم لوړ بولی ، برسېره پر هغه هم و څښتن تعالی [ج] ته د رسېدلو لار د سلوك په لومړی مرحله کی د نفس د پاکی او تزکیی په واسطه اټکل کوی ، او د سیر په مرحله کی و څښتن تعالی [ج] ته رسېدل په محبت (مینه) پوری تړلی بولی . یا په بل عبارت دوی وایی :-

« عشق د خدایی اسرارو اسطرلاب (مباط اصلی اندازې) دی ، هر څوك چی د مینی په رمز پوه شی هغه وابدی روښنائی تـه رسېدونکی او څښتن-تعالی [ج] ته وصل کیږی .

پدې اساس اسلامی عارفان سره ددې چی خدایتعالی [ج] تر وهم او ګمان، خیال او قیاس لاهم لوړ بولی بیا هم عقیده لری چی انسان د مینی او محبت په رڼـا کی کولای شی چی و څښتن تعالی [ج] ته ځان وصل کړی .

داؤ د اسلامی عارفانو، صوفیانو او د نړۍ د ځینو فلاسفه ؤ عقیدې چی د عشق او مینی په هکله په پورته ډول ولیکلی شوې . اوس به د ځینو پوهانو او لویو خلکو څو لنډی ویناوی هم د عشق په نسبت و ګرانو لوستونکو ته وړاندی کړم .

۱. ماسیون: « د انسان سرنـوشت عشق روښانه او ښکاره کوی » .

۲. افلاطون: « بېله عشق ژونـد محال دی » .

۳. عشق یوه داسی بـلا ده چی هر څوك د هغه غوښتونکی دی .

۴. عشق دابد د پاره پرټولو حاکم دی .

۵. په هغه ځای کی چی دلیل او منطق مغلوبه شی ، عشق مرسته کوی .

۶. عشق د قهرمانانو او لېونیانو پیدا کونکی دی .

د خندا !!!

پلوش

د محمد ناصر [نصرت]
ژباړه اوټولونه

څو ډوله اشعار

یو شاعر د یو ډېر ممسك حاکم په ستاینه کی قصیده جوړه، او هغه ته ئې ورولېږله .

حاکم هیڅ شی ورنه کړ .

څو ورځی وروسته ئې د غوښتنی یوه قصیده جوړه بیا ئې ورواستوله .

خو دې غوښتنی ئې هم کومه فایده ونه کړه .

د شاعر حوصله تنګه شوې د حاکم په غندنه کی ئې قصیده لیکلی ورو ئې لېږله .

حاکم بیا هم بی اعتنا او هیڅ جواب ئې ورنه کړ .

بله ورځ کله چی حاکم پر آس سپرېده وئې لیدل چی هغه شاعر هلته نژدې پر یوه لوړه ورته ناست دی، نو حاکم ورته وویل چی:

ډېر بی فکره شاعر یی، مدحه دی وکړه څه دی لاس ته ونه رسېده، خواهش دی وکړ قبول نه شو، غندنه دی وکړه اثر ئې ونه ښنده نور نو دلته د څه شی په انتظار کی ولاړ یی؟.

شاعر ورته وویل: پدې انتظار کی یم چی ته مړسی او زه دی د مرګ منظوم تاریخ نوشته کړم .

د پور د ادا کېدو وخت

میرعلی چی د شاهرخ له امراؤ څخه وو تل مدام به ئې محتاجو او فقیرانو خلګو ته په پور پیسی ورکړی، او د پور د ادا کېدو وخت به ئې د شاهرخ تر مرګ وروسته ټاکی .

خلګو دغه قصه تر شاهرخ پوری رسولی او د هغه خیال ئې پر بله اړاوه، تر دې اندازې چی یوه ورځ شاهرخ له ډېره درده میرعلی ته وویل :-

د ډېر حیرت ځای دی چی ته زما په سایه کی ژوندی، او څرنګه چی ما ته معلومه شوېده ته زما د مرګ شایق یی!.

میرعلی ورته وویل: چی دغه مطلب مو له کومه ځایه درك کړیدی؟

شاهرخ ورته وویل: ما اروېدلی دی چی ته خلګو ته زما د مرګ په میعاد په پور پیسی ورکوې .

میرعلی ورته وویل: بلی! لکه څنګه چی دی اروېدلی دی همداسی ده ؛ زه و محتاجو خلګو ته پدې میعاد پورونه ورکوم، او هغوی د دې د پاره چی د پورو میعاد ئې ونه رسیږی

د شپې او ورځې ستاسې د مبارك وجود د عمر اوسلامتۍ ددوام دپاره دعاوې کوي اوستاسې بقا له پاك خدای [ج] څخه غواړي.

د میرعلي پدې جواب سره شاهرخ خورا خوشحاله سوی، د هغه پر دوستي او مقام باندې ئې زیاتوب کړی، بدبینې ئې په ډېره خوش بینې سره بدله شوه.

✡●✡

د دوږخ دعا

سوالګر. خدای تعالی دی ستا او ستا د خانمې جنت په نصیب کړی، یوه روپۍ خو راکړه.

د کورخاوند. دغه دوې روپۍ واخله او دعا راته وکړه چې خدایتعالی مې خانمه جنت ته واچوی او ما دوږخ ته.

ځکه هلته خو به ئې لږ ډېر له شره په امان یم.

✡●✡

د سګرېټو بیه

دوه کسه په صحبت سره اخته، یوه و بل ته وویل:-

دا شلم کال دی چې سګرېټ څکوې، که موږ دورځې شل دانې شمار، او بیه ئې یو فرانك ونیسو د میاشتې ۳۰، د کاله ۳٦۰ او په شل کاله کې ۷۲۰۰ فرانکه کیږي، داهغه مبلغ دی چې پدې شل کاله کې دی عبث دود او تلف کړیدی که دی سګرېټ نه څکولای، اوس دی تر ښار دباندې د ښو اوبو، صافې هوا، د استراحت لوی ځای رانیولای سوای.

ملګری ئې ورته وویل: ته صحیح وایې، آیا ته هم سګرېټ څکوې؟

هغه ورته وویل: یه.

نو سګرېټ څکونکی ورته وویل: خواهش کوم چې یوه ورځ مې ستاسې هغه ځای ته چې د پورته صفت لرونکی وی دروغواړې.

✡●✡

دوه غټ درواغجنان

یونفر وویل چې زه په سترګو کې دومره تېز او قوی یم، چې زرګامه لیری ډېر واړه واړه شیان راته ښکاری: دمثال په توګه همدا اوس د کلیسا پر ګلدانۍ مچ رهی او زه ئې ښه وینم.

بل نفر ورپسې ور درسته کړه، چې زما سترګې خو دومره نه دی. لېکن غوږونه مې خورا تېز او د اروېدو زیات قدرت لری.

دمثال په توګه هغه مچ چې هلته رهی دی دلته ئې زه د پښو کړپې اروم.

عشق....

د ۲٤ مخ پاته

۷. روسو: «بې مینې خلګ هغه پرانده دی چې هیڅکله به منزل ته ونه رسیږی».

۸. وال پول: «مینه یوه داسې ناروغی چې دهغه علاج مرګ دی».

۹. بورك: «مینه یوه عالیترینه نشه او یوه ظالمترینه قوه ده».

۱۰. ماسیون: «مینه یوازنۍ قوه ده چې درانه بارونه سپکوی او د ډېرو ستړو پښو دپاره کړې وړې لاری سموی».

۱۱. ناپلیون: «دانسان په زړه کې د مینې داسې ده لکه د آس وبغل ته مهمېزه».

«پای»

ګل خرڅونکې نجلۍ

یوه نجلۍ چې فقط په همدې نامه پېژانده کېده د شپې زیاتره وخت به هغه هوټل ته چې د پاریس د مشهور بازار د محصلینو په کوڅه کې ؤ له ګلانو ډکې ټوکرۍ سره راتله، موږ هر یوه به د هغې د زړه د خوښۍ د پاره څو، څو ایکۍ ورکړی یو یا دوه ګله به موځینې رانیول. په دغه وخت کې به د نجلۍ په شیرینو شونډانو کې یو نرۍ تبسم ښکاره او زموږ توجه به ئې جلب کړه.

په دغه وخت کې د نجلۍ سن لا شلو کالو ته نه رسېده خو د هغې غټو او تورو سترګو دا ښکارو له چې د عربو له نژاد څخه ده. ناز او ادا ئې ښکلا او محبوبیت دوه چنده کړی ؤ. دغې نجلۍ ډېر زړه وړونکی او فدایان درلوده خو طبعاً به ئې هر کله د خلګو د اظهاراتو له قبول څخه اوږه خالی کړې او همدا سبب ؤ چې د نجلۍ شهرت خورا زیات شوی تقوی او پاکی ئې قدر او قیمت زیات کړی ؤ.

کله، کله به ځینو هوا پرستانو خاص بیا هغه وخت چې د شرابو بخار به ئې په سر کې، او اعصاب به ئې په ښور کې وه ډېری پیسې او غټ لوټونه په مخ کې ورته اچول. مګر هغې به هیڅ اعتناء ونه کړه خپله ټوکرۍ به ئې پورته خدای په امانی به ئې کړی بل ځای ته به ولاړه.

یوه شپه خپل کور ته چې په یوه تیاره او تنګه کوڅه کې ؤ تله، پر لاری ئې یو کوچنی هلك چې نوی پیدا سوی او په عامه لار کې پروت ؤ را اخیستی، له ځانه سره ئې خپل هغه اطاق ته چې پورته واقع ؤ یووړ. د څراغ په رڼا ئې ولیدل چې د هلکی پر اوڼی باندی په سنجاق یو کاغذ ځوړند، او پکښې لیکلی وه چې:

ددې هلك پر حال باندی چې مور ئې د مرګ پر حال او د ژوند هیڅ امید ورته نشته رحم وکړی.

دغه واقعه چې د هغې ګل خرڅونکی نجلۍ د باطنی احساساتو، قلبی آرزوګانو د میل او ارادې سره ئې مطابق وه هلك ئې په زوی توب قبول او په ساتلو کې ئې کوښښ کاوه، او که به کوم وخت دا نه وه یوې همسایه ښځې به پر هلك پام کاوه.

له دغې مقدمې څخه دوه کاله تېر شوی او ګل خرڅونکی ښځې پدغه دوه کاله کې بې له دې درو کارو څخه چې پر هلك پام کول ګلان خرڅول او خپل عفت او عصمت ئې په انتها درجه ټینګ ساته بل کار نه کاوه.

پدې وخت کې ګل خرڅونکی ډېره خوښه او ځان ئې خورا نېکمرغه باله، ځکه د هغه هلکی په نسبت ددې زړه د مور والی له یو ډول محبت څخه ډك او خاطر آرامه وه. لېکن څرنګه چې زمانه

د ژوند هیڅ ترتیب پریوه حال نه پرېږدی . هلك ډېر ناروغه سوی ، د مرګ زړه رېږدونکی

منظرې په هغه تنګ او تیاره اطاق کی خپله هولناکه چهره ښکاره کړه .

ګل خرخونکی ښځی هغه ناروغ هلکی شفاخانی ته نه بېوی بلکی د شپی او ورځی به په خپل کور کی د هغه په علاج

مشغوله او دومره زیات کوښښ ئې کاوه چی ټوله ذخیره پیسی ئې د خپل زړه د پیوند هلکی په

علاج کی تمامی سوی ، او آخر خبره دې ته ورسېده چی یوه پیسه ئې هم نه درلوده .

یووخت تقریباً نیمه شپه وه چی د یوې خوا ډېریخ او د بلی خوا اطاق هم تیاره ؤ د څراغ تېل ، سکاره او نور شیان هم

پرمخ تمام سوی وه ، ډېر پریشانه سوې ، د خپل عفت او عصمت ساتلو سره ئې په زړه کی ډېری خبری ورګرزېدلی ، آخر ئې

تصمیم ونیاوه ، له اطاقه راوتلی لاندی ئې د محصلینو پر کوڅه مخ نیولی یولوی هوټل ته ورغله

هلته یو مېز ته چی څو کسه شاؤخوا پر راګرزېدلی ناست وه ودرېد .

هغه خلك چی ځینی سپین-ږیری ، ځوانان او هم هغه کسان

وه چی ګل خرخونکی ښځه به ئې زیاتره تعقیب او هم ددې د لیدو ډېر مشتاقان وه .

ګل خرخونکی ښځی مخ ور ګرزولی ، او ورته ویی ویل :

زوی می ډېر ناروغه ، د علاج د پاره هیڅ شی او پیسه هم نه لرم ، حاضره یم هر یو چی وغواړی ما د یوه ساعت د پاره خپل کور ته بوزی او څه پیسی راکړی .

له خلکو څخه یوه وویل :

زه لس فرانکه ، بل ویل زه پنځلس ، دریم ویل زه

شل فرانکه درکوم . آخر یوبل نفر دټولو خوله تړلی او ویی ویل :

زه پنځوس فرانکه در کوم .

پدې وخت کی ښه ګړی سکوت موجود ، او نزدې ؤ چی ګل خرخونکی نجلی له ۵۰ فرانك ورکونکی سړی

سره راضی او ولاړه سی . لېکن یو شرقی محصل چی د هغی ډلی په منځ کی ناست ؤ سکوت ئې مات او ویی ویل :

زه سل فرانکه درکوم .

پدې وخت کی یو نفر هم پیدا نه شو چی زیاتوب دی

وکړی .

ګل خرخونکی نجلی له نورو خلکو سره خدای په امانی کړې له هوټله راووتل . کله چی دوی پرلاری سره رهی ، او د نجلکی کورته نژدې سوی وه نجلی و هغه شرقی محصل ته وویل :

اجازه راکوې چی له دغه سکاره خرخونکی څخه یوه کڅوړه سکاره را نیسم او کورته سر ورننبلسم بیا به بېرته سره ولاړسو ؟

سړی ورته وویل : ډېر ښه .

وروسته دواړه د سکاره والا دکان ته وروختل .

نجلی سکاره خرخونکی ته وویل چی : ته یوه بوری سکاره زموږ کره ولېږه پیسی به ئې سبا سهار درکړم او چی له دکانه راووتل او کور ته نژدې شوه هغه سړی ته ئې وویل :

تاسی به دلته په دغه کوڅه کی یو قدم ووهی ، زه به دوې دقیقی وروسته راسم .

کله چی کورته ورسېده ویی لیدل چی همسایه ښځی ئې د آخری ځل د پاره د سکرو ګونی ټك وهلی او چی پاته ایره ئې په بخاری کی واچوله ، ویی ویل : چی نور نو نشته .

ګل خرخونکی نجلی ورته وویل : اوس به یوه بوری سکاره درته راسی هم به خپل

ګل خرڅونکی...

اطاق او هم به زما اطاق را تود کړې . چې دایې وویل نو پورته ختلی ، د هلك بسترته نژدې ورغله

هلك چې بیده ؤ کرار ئې مچ کړی او یو سوړ آه ئې وکیښ . وروسته له اطاقه راوتلی لاندی کښته شوه که ئې کتل په کوڅه کې سړی نشته او تللی دی . په دغه وخت کې نجلۍ هکه-پکه در پدلی نه پوهېده چې څه وکړی.

همسایه ئې له اطاقه ورته راوتلی او ورته ویې ویل چې:

هغه سړی چې ستا سره دلته راغلی ؤ دغه پاکټ ئې راکړی او راته ویې ویل چې دغه پاکټ ورکړه او دی ولاړ، انتظار مه باسه.

ګل خرڅونکی نجلۍ چې پاکټ خلاص کړ وئې لیدل چې د پاکټ په منځ د «سلوفرانکو پنځه لوټه» پراته دی .

د م.[نیازی] ژباړه

ددوهم مخ پاته برخه

چاری مو پوره کیږی او یو داسی تحول منځ ته راځی چې هر فرد د خپل شخصیت واقعی حیثیت پیدا کوی او د ټولنې ټولې نیمګړتیاوی پوره کیږی صادق، صادق وبولو او خاین،خاین وبولو. هیواد هیواد وبولو . خدمت خدمت وبولو او دا وطن خپل د ژوند او مرګ ټاټوبی وګڼو او د ارتقاء او د ټولنې حیثیت پرځای کړو او بس.

KANDAHAR
MONTHLY MAGAZINE
OFFICE:-
PRESS DEPARTMENT
KANDAHAR, AFGHANISTAN
EDITOR: ZALMAI 'BARAK'
(NOVEMBER) 1968
GOVERNMENT PRESS

د امتیاز خاوند: د طلوع افغان نشراتی مؤسسه
مسئول مدیر: زلمی (بارک)

کندهار
میاشتنی خپرونه
تاریخی، اجتماعی، علمی، ادبی
اداره: د شهیدانو واټ
د تاسیس کال ۱۳۳۹
د ۹ کال اتمه گڼه
۱۳۴۷

کالنی بیه
په کندهار کی [۲۸] افغانی
دهیواد په داخل کی [۳۳]«
په دباندنیو هیوادو کی یوډالر
پر له پسی گڼه ۹۸

د کندهار دولتی مطبعه